AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق
۲۰۲۶/۰۶/۱۷

# مړه کردارونه

## لنډه قصه

لیکوال خپل یو زوړ ناول پرانېست، پاڼې ئې ټولې سپینې سوې وې، کرکټرونه ئې ګرده ورک ول. خپلو نورو کتابونو ته ور منډه کړه. د هغو ورقې هم تشې وې، فصلونه واړه غایب. حېران وو بیا خواشینی سو، دا څه وه، دا ټوله څه سول، د ناولونو مانی ئې ولې سپېرې وې، د لنډو کیسو کوڅې څنګه خالي، او د شعرونو باغونه څه له وران ول، مرغی ئې چېرته الوتي وې. پاچاهانو، صوفیانو، شاعرانو، او عالمانو ټولو کډه کړې وه. حتی هغه لېوني فلسفیان هم نه ول چې له ده سره بې په هره صفحه کې د هري جملې تر سیوري لاندي لانجي وې. ټول ورک ول.
ورځي ورځې، سرګردانه ئې کور پسې غلبلاوه، په لاس ئې خپل تخلیق سوی شیطان هم نه ورغی.

یوه ورځ د ښار په زړه کې د یوې نوې کتاب پلورنځي مخ ته تېرېدی. د دکان په کړکۍ کې له رنګو ډکه مجله ایښوول سوې وه. پر سرورقې ئې د یوې لوڅې نجلۍ انځور وو، هغې په لیکوال پسې ور ږغ کړه:

«په هغو مړو پسي ګرځې؟»
لیکوال ودرېد.
لومړی ئې فکر وکړ چې ډېر تلاښ ئې ښایي په وهم بدل سوی وي، خو نجلۍ بیا وخندل:

«هو، ستا کردارونه در ښییم. شاعران، پاچاهان، صوفیان ،پوهان او هغوی ته ورته نوري بلاوي، زه پوهېږم چېرته دي.»

لیکوال ورو ورو د کړکۍ خوا ته ورنژدې سو.

«چېري دي؟»

نجلۍ لیري د دښت د کنډوالو پر لور اشاره وکړه.

ماښام وو چې لیکوال ور ورسېدئ. هلته هدیره وه، عجیبه هدیره. د قبرونو له خاورو څخه د مړو سرونه راوتلي ول. بدنونه ټول تر خاورو لاندي ښخ ول، خو سرونه د مځکې پر مخ پاته ول. لیکوال وروړاندي سو. لومړی قبر ئې وپېژندی. هغه د ده د یوه تاریخي ناول پاچا وو. سترګي ئې وچي وې، تاج ئې له خاورو ډک وو. دویم قبر د یوه سالک وو چې کلونه مخکې ئې د عشق په اره اوږدې ویناوې کولې. دریېم د یوه شاعر وو. څلورم د مفکر. پنځم د فیلسوف. سلګونه نور هم ول. ټول هغه کسان چې یو وخت ئې د ادب پر تختونو حکومت کاوه. ټول مړه ول.

لیکوال له خپلو مړو کردارانو څخه د یوه لیوني فلسفي د قبر مخي ته کښېناست، چې سر ئې په خاورو کې پټ وو پښې ئې په هوا وې. له ځانه سره ګډ سو: «دا خو تښتېدلي نه دي، نه چا برمته کړي ول، دا خو ټوله مړه دي.» په ځوړنده سر له هدېرې را ووت.

خو د هدیرې تر سرحد چې پښه واړول، نړۍ بدله سوه. د ځګو مانیو او د برېښنا له رڼاوو ډک ښار کې ولاړ وو. هلته زرګونه کسان ګرځېدل. هیڅوک د ده د کردارونو په څبر نه ښکارېدل. ټول لوڅ ول. د جامو پر ځای ئې یوازي رنګونه، اعلانونه، انځورونه او شعارونه پر بدنونو نښتي ول. لیکوال هک پک ودرېد.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځير و لولئ

ناڅاپه هماغه نجلی چې د مجلې له پوښ څخه راوتلې وه، د خلکو له منځه راڅرګنده سوه.
هغې وخندل.

- هدیره دې ولیده؟
- هو !
- او پوه سوې؟
-

لیکوال چوپ سو.

- تاسې څوک یاست؟

نجلی د بر بنډو خلکو پر لور اشاره وکړه بیا ئې په آرام ږغ وویل:

«موږ د دې زماني کرکټرونه یو، په کتابونو کې نه اوسو. موږ د خلکو په سترګو کې اوسېږو، د هغوی په هیلو او خواهشونو کې.»

لیکوال سر بد حاله مستو تنکیو ځوانانو ته ځیر سو.

نجلی بیا خُله وښورول:

«ستا شاعران، صوفیان ، مفکران او په شان ئې نور بد و بدتر ټول مړه سول، هغوی فکرونه خپرول، خلک ئې سکون ته نه پرېښول...شکر چې مړه سوه...»

هغې خپل مخ د لیکوال غوږ ته ورنژدې کړ.

- خو موږ نه مرو!
- ولې؟

نجلی وخندل.

- ځکه چې موږ هره ورځ د خلکو په ذهنونو کې له سره زېږېږو.

لیکوال غوښتل څه ووایي، خو ږغ ئې ونه وت.
هغه شاته وکتل.

هدیره نهامه سوې وه. مخ چې بېرته را واړاوه ښار او رڼاوې هم ورکې وې.
د نجلی پر ځای یو سپین کاغذ پروت وو.

او د کاغذ په منځ کې یوه جمله لیکل سوې وه:

«لیکواله، نور به تاسې کردارونه نه لیکئ، کردارونه به تاسې پیدا کوي.»

محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ